Jeffry j. Roberts
مترجم: عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۱۰/۰۶

# نادرشاه او هاشم خان، د افغانستان او انګلستان د همکارۍ پیل
# The Origins of the Conflict in Afghanistan
## پنځم فصل
### لمړۍ برخه

د ۱۹۲۹ کال د د جنوري په میاشت کې، بچه سقاو، د معاصر افغانستان په تاریخ کې، لومړنی تاجک واکمن وو. نه ده پخپله او نه هغو ملایانو چي ده د خپلو سلاکارانو په حیث مقرر کړل د حکومت کولو استعداد ونبود. بچه سقاو له ډیرو زیاتو داخلي ستونزو سره مخامخ وو؛ خو د هغوی د لیري کولو لپاره یې هیڅ ډول مالي منابع نه درلوده نو، د خپل قدرت د ټینګولو لپاره یې، له خلکو څخه په زور د پیسو اخیستلو او دهشت اچولو ته مخه کړه. د ده طرفدارانو د خلکو د شته منیو غصبولو او د عامه شته منیو غلا کولو او د خپلو مخالفینو اعدامولو ته لاس واچاوه. د برتانيي سفیر له کابل څخه له روانېدلو نه لږ مخکي ولیکل: « هیڅوک خوندي نه وه، کورونه پر له پسي لوټېدل، ښځي بې عزته کېدلې او پر ښار باندي داسي ویرې او دهشت حکومت کاوه چي د افغانستان په خونړي تاریخ کي یې ساری نه وو لیده سوی. »

دې داخلي ګډوډیو، برتانيي اوشوروي اتحاد دواړو ته، د افغانستان په سیاست کي د نفوذ کولو، فرصت برابر کړ. که څه هم چي د شوروي په حکومت کي ځینو افرادو او موسسو غوښتل چي داړه مار پاچا په رسمیت وپېژني خو نورو د هغه د قدرت او صلاحیت محدودیتونو ته کتل او نورو بیا، د برتانيي پر ضد، د امان الله خان عنعنوي دریځ ته ترجیح ورکوله. سټالین بالاخره د بچه سقاو له تحریک څخه، چي د دهقانانو حرکت بلل کېدی، لاس واخیست او د امان الله خان د ملاتړ لپاره یې ۸۰۰ کسیزه قوه، چي له سروعسکرو څخه جوړه وه، د افغانانو په جامو کي ولېږل. که څه هم چي له دې عسکرو سره د هوايي قوې، توپخاني او ماشین ګنو ملاتړ ملګری وو، د بچه سقاو پوځیانو یې مخه ونیوله. کله چي د شوروي قواوو ته، د افغانستان په جنوبي سیمو کي، د امان الله خان د ماتي خبر ورسېدی نو دوی هم بېرته پر شا سول.

برتانيي هم دا امید له لاسه ورکړ چي یو تاجک دهقان به په افغانستان کي دایمي ثبات ټینګ کړای سي؛ خو د پخوانیو تجربو څخه یې دا زده کړي وه چي په افغانستان کي د مستقیمي مداخلي څخه ځان وژغوري. د برتانيي حکومت، په داسي حال کي چي په ظاهره یې ځان بې طرفه ښکاره کوه، قدرت ته د نادرشاه د رسېدلو طرفداري کوله. نادرخان، چي د افغان او انګلیس د دریمي جګړي قهرمان او د دفاع پخوانی وزیر وو، په ۱۹۲۴ کال کي هغه وخت له امان الله خان سره مخالف سو چي د منګلو د بنورش په ځپلو کي له برخي اخیستلو څخه یې انکار وکړ. دی فرانسي ته د سفیر په حیث واستول سو مګر عملاً له وطنه تبعید سوی وو مګر د یوه لایق منصبدار او صادق سیاستمدار په حیث مشهور وو. د ده لیاقت او پوځي تجربې له هر چا سره دا هیله پیدا کړې وه چي په هیواد کي به ثبات ټینګ کړي.

بچه سقاو او امان الله خان دواړو له نادر خان سره تماسونه ټینګ کړل مګر هغه له یوه سره هم د همکارۍ ژمنه ونه کړه او پخپله یې د قدرت نیولو لپاره مبارزه پیل کړه. برتانيي سرحد ته تر تللو پوري نادرخان ته تسهیلات برابر کړل او ده ته یې ۱۷۵ زره پونده او ۱۰ زره توپکونه ورکړل. نادرخان او د هغه دریو کشرانو ورونو، هاشم خان، شاه محمودخان او شاه ولي خان، د خپل نوي جوړ کړي لښکر سره د کابل د نیولو لپاره روان سول. بچه سقاو د دوی قواوو ته د اپریل او بیا د جون په میاشت کي ماته ورکړه مګر پر هغه باندي د شمال، جنوب او مرکزی برخو څخه پر له پسي فشار د هغه قوت کمزوری کړ. اقتصادي بې اداره ګیو، شخصي اخلاقي فساد او تېریو، په جنګ کي تلفاتو او ډېرو زیاتو اعدامونو د هغه په مقابل کي عمومي نارضاییت زیات کړ او هغه د نویو عسکرو د جلبولو توان له لاسه ورکړ. کله چي نادرخان د ډیورنډ د کرښي پر ختیځه غاړه باندي د وزیرو او مسودو په برتۍ کولو بناء وکړه نو برتانيي خپل غوږونه کاڼه واچول. کله چي د نادرخان ورونو خپل یرغل له سره پیل کړ نو دې قبایلو قاطع مرسته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ورسره وکړه. بچه سقاو ونیول سو او د خپلو ډیرو ملګرو سره اعدام سو. د قبایلو مشرانو او نورو بانفوذو افغانانو نادرخان د پاچا په حیث ومانه.
نادرشاه په داسي یوه هیواد کي قدرت ترلاسه کړ چي حکومت او اداري وجود نه درلودی. باسماچي مشرابراهیم بیګ، پرته له دې چي د کابل د حکومت د مقاماتو خیال وساتي، په شمال کي له خپلو مرکزونو څخه، د شورویانو پر ضد، عملیات پیل کړل. غلجي قبایلو، چي د ۱۹۲۸ کال راهیسي عملاً مستقل وه، د مرکزي حکومت سره مقاومت ته لاس واچاوه؛ په داسي حال کي چي هرات اوس هم د بچه سقاو د یوه طرفدار په لاس کي وو. نادرخان له دې وضع سره په داسي حال کی مخامخ سو چي خزانه په بشپړه توګه تشه وه، د اداري درک نه وو او ملي پوځ وجود نه درلودی. نادرخان هیواد ته د داخلي جنګ له امله رسېدلو تاوانونو د جبران کولو او هیواد د بیرته رغولو لپاره له برتانیي څخه د همکاری غوښتنه وکړه. دغه علت دی چي قدرت ته د ده رسېدل د برتانیي او افغانستان ترمنځ د اړیکو په تاریخ کي د یوي نوي دورې پیل بللای سو.
نادرشاه باید تر هر څه مخکي خپل پوځ له سره تنظیم کړی وای. د دې کار لپاره یې له برتانیي څخه مالي مرستي او وسلې واخیستلې او خپل ملي پوځ یې له سره ورباندي جوړ کړ. د دفاع دغه پخواني وزیر د خپلي پاچهی په ټوله دوره کي د پوځ سمبالولو ته متوجه وو. د افغانستان پوځ، تر ۱۹۳۳ کال پوري، ۴۰ زره عسکر درلودل؛ په داسي حال کي چي د امان الله خان په زمانه کي د پوځیانو شمېر ۱۲۰۰۰ تنه وو. د دوهم جنګ د پیل په درشل کی یې شمېر ۷۰ زرو تنو ته ورسېدی. نادرخان، د خپل پوځ د کفایت او قوت د ښه کولو لپاره، خپل پوځي افسران هند، ترکیي، فرانسي او جرمني ته د روزني لپاره ولېږل. نادرخان د عسکرو د روزلو لپاره، په کابل کي، د مکتب احضاریه په نوم، یو ښوونځی پرانیست. لکه د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کي، د پوځ اصلي هدف د بهرني یرغل په مقابل کي دفاع نه بلکه د داخلي ښورښونو ځپل او د امنیت ټینګول وه. نادرخان، په یو شمېر عملیاتو کي، د داخلي امنیت د ټینګولو لپاره، له پوځي قواوو څخه کار واخیست.
نادرخان، د خپل تخت او پاچهی د ټینګولو او مصوون کولو لپاره، په هیواد کي دننه، محافظه کار عناصر راضي کړل. هغه په دې پوهېدی چي د افغانستان خلک به د چټک عصري کولو بل پروګرام ونه مني نو په ډېر احتیاط یې داسي اصلاحات طرح کړل چي د اسلامي عقایدو سره یې ټکر نه کاوه. ده حجاب بیرته جبري کړ او په یو شمېر اعلامیو کي یې مذهبي عناصرو ته صلاحیتونه ورکړل. اساسي قانون، چي په ۱۹۳۱ کال کي، لویي جرګي منظور کړ، د حنفي مذهب په اساس ترتیب سوی وو. که څه هم چي دغه اساسي قانون، د پارلمان د دوو جرګو په ایجادولو سره، مشروطه شاهي سستم منځته راووړ خو پارلمان یوازي مشورتي حیثیت درلود او وزیرانو، کابینې او پاچا کولای سوای چي د هغوی په مشورو کي ری ونه وهي. نادر خان د جنګ د اعلانولو او د وزیرانو د مقررولو او لیري کولو صلاحیت له ځان سره خوندي کړ. هغه دغه راز د پارلمان د رایي د ویټو کولو او د نویو قوانینو د جاري کولو حق درلود. د دې پارلمان اصلي اهمیت، لکه د امیر عبدالرحمن د زماني په څېر، کابل ته د ډیرو قومي مشرانو راغوښتل او په دې توګه د محلي ښورښونو کمول وه.
په ښکاره، د نادر خان په پالیسي کي د هغه اعلامیو او ویناوو انعکاس کاوه، چي هغه بېطرفي وه او د افغانستان لپاره تر ټولو بهتره پالیسي وه. مګر په حقیقت کي د اسلامي استحکام او بېطرفی د سیاست د تبلیغاتو شاته، افغانستان، د ۱۹۳۰ په لسیزه کي، تر شوروي اتحاد له برتانیي سره د اړیکو ټینګول غوره بلل. نادرخان کوښښ کاوه چي له شوروي اتحاد سره مناسب اړیکي ولري؛ ځکه په دې پوهېدی چي که له شوروي اتحاد سره دښمني را واخلي نو سټالین د جدایي غوښتني او قبیلوي تحریکونه ورته لمسوي او ښایي امان الله خان هم لاس پکښي ولري. نادرخان په ۱۹۳۱ کال کي، له شوروي اتحاد سره، د ۱۹۲۶ کال د بېطرفی او تعرض نه کولو تړون تجدید کړ. ده دغه راز د باسماچیانو هیڅ ملاتړ ونه کړ بلکه له شورویانو سره یې د ابراهیم بیګ په نیولو کي مرسته وکړه. خو د نادرخان له لومړیو اقداماتو څخه یو داوو چي ټول هغه شوروي مشاورین او تخنیکران یې له افغانستان څخه وایستل چي امان الله خان استخدام کړي وه. نادرخان دغه راز له شوروي سره اقتصادي تماسونه هم محدود کړل؛ که څه هم چي د نړی اقتصادي بحران هغه کله کله استثنی قایلېدلو ته مجبوراوه. ضمنا د افغانستان په پوځ او هوایی قوه کي د شوروي اتحاد نفوذ بیخي له منځه ولاړ.
نادرخان او د هغه ورونه، چي تر ۱۹۵۳ کال پوري یې قدرت په لاس کي وو، دې حقیقت ته متوجه وه چي شوروي اتحاد یوازینی هیواد دی چي د افغانستان خپلواکی ته سمدستي خطر پیښولای سي. دوی لیدل چي برتانیه پر هند باندي په تسلط قانع ده که څه هم چي د هغوی دغه تسلط هم لړزانه وو. دوی دغه راز په دې پوهېدل چي د اقتصاد عصري کول یې هیواد ته حیاتي اهمیت لري او له هند سره اړیکي یې له دغه امله کټور بلل. نادر په دې حقیقت پوهېدی چي قبایل د مرکزي حکومت د ټینګېدلو او هیواد د عصري کېدلو په مخ کي یو لوی خنډ دی او هغه یې د خپلي پاچهی د دوام لپاره خطر باله. له دغه امله، له برتانیي سره دوستي او اړیکي د مالي قوت او عصري کولو لپاره مهم وه. دوی تجارت او د یوه باکفایته پوځ انکشاف ته توجه وکړه ځکه دوی پوهېدل چي پوځ هم داخلي نظم ساتي او هم د شوروي د یرغل په مقابل کي دفاع کوي. ځیني منابع خو لا حتی وایي چي د شاهي کورنی ځیني غړي په دې عقیده وه چي له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

برتانيي سره نيژدې اړيکي به يو وخت داسي حد ته ورسيږي چي افغانستان به په شمالي هند کي له يوه خودمختار اسلامي دولت سره فيدراسيون جوړ کړاى سي.
د برتانيي اکثرو مقامات هم په دې عقيده وه چي يو قوي افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل په مقابل کي د يوې حايلي سيمي کار ورکولاى سي، د قبايلو د پاڅون خطر کموي او اقتصادي همکاريو ته لاره هواروي. دوى ويل چي که د نادرخان رژيم له برتانيي سره همکارى ته دوام ورکړ نو هغه هيواد ته بايد سبسيډي ورکړه سي. نادرخان د برتانيي د ملاتړ د دوام په بدل کي د ډيورنډ د کرښي په لوېديځه قبايلي سيمه کي د لاس وهني مخه نيوله او د مخکنيو پاچاهانو د فعال او تعرضي نېشنليزم پاليسي يې پرې ښوده. په کابل کي د برتانيي سفير سر ريچرډ ميکوناشي د نادرخان قبايلي پاليسي داسي خلاصه کوله: « ځرنګه چي افغانستان به د ډيرو کلونو لپاره، د خپل داخلي بيا رغولو په کوښښونو بيسي لګوي او حکومت به هغې خواته خپله توجه اړوي.... نو افغانستان به د سرحد څخه هاخواته قبايلو په چارو کي د مداخلي کولو وخت ونه لري؛ او د امان الله خان په څېر به د مځکو دعوه رواوا نه خلي.... او دوى به د دغي پاليسى پرېښودلو ته مجبور وي. دغه پاليسي د افغانستان له حالاتو سره برابره ده او د هغې د تعقيبولو په رېښتينوالي کي شک درلودلو ته ضرورت نسته.» نادرخان دغه راز، د ۱۹۳۰ کال د مي په مياشت کي، دراولپنډي ټرون تاييد کړ او د هند له حکومت سره يې يو شمېر نور ټرونونه لاسليک کړل.
د برتانيي او افغانستان د اړيکو بهترېدل هغه وخت ډېر مهم ثابت سول چي د شمال لوېديځ سرحد ايالت د هند د ملي غورځنګونو له موج سره ملګرى سو. د مونټيګ چلمسفورډ Montigue- Chelmford د ۱۹۱۹ کال اصلاحاتو يوه مرکزي قانون جوړونکي موسسه منځته راوړه او د هند اکثرو ايالتي حکومتونو ته يې يوه اندازه خودمختاري ورکړه؛ خو د سرحد پښتنو ته يې دغه حقوق ورنه کړل. د برتانيي مقاماتواستدلال کاوه چي د سرحدي قبايلو ستراتيژيک موقعيت او د هغوى د پرله پسي ښورښونو او سرکښيو له امله يې هغوى له دغه راز اصلاحاتو څخه بې برخي کړي دي؛ او دغه فيصله د هند ډيرو نېشنليسټانو هم تاييد کړه. د سرحد پښتني قبايلو له اصلاحاتو څخه محرومېدل خپل حيثيت ته سپکاوى وباله او د لسو کالو ناکراريو سبب سو. د شمال لوېديځ سرحد ايالت هم د هغي سيمي د ځايي خلکو د ګوندونو او هم د هند د نېشنليسټ تحريک لپاره د ايډيالوژيکي جګړو ميدان سو.
له دې اصلاحاتو څخه د شمال لوېديځ سرحد د ايالت د محرومېدلو په جواب کي، دواړو ورونو ډاکټر خانصاحب او عبدالغفار خان د حکومت مخالف ګوند تاسيس کړ. دا ګوند له لويه سره سرحدي جرګه يا افغان جرګه بلل کېده او د جنګ په کلونو کي د سرحد تر ټولو مهم ګوند سو او بالاخره يې د خدايي خدمتګاران نوم غوره کړ. غفارخان وروسته د پښتنو کنډکونه جوړ کړل او دا د ګوند ملېشه سوه. د دې لپاره چي د ګوند لپاره يونيفورم ولري نو دوى خپلي جامي په نباتي رنګونو او يا د پخو خښتو په دوړو ورنګولي او په سرخ پوشان مشهور سول. دا لقب وروسته، په غلطه، د ټول ګوند لپاره استعمال سو.
د ۱۹۲۹ کال په وروستيو شپوږځو کي، خدايي خدمتګاران رسما د کانګريس له ګوند سره يوځاى سول. دا اتحاد د دې پر ځاى چي د ګډي ايډيالوژي په اساس جوړ سوى وي زياتره د مصلحت په اساس وسو. کانګريس، چي د انګرېزانو په مقابل کي يوازينى موثر نېشنليسټ ګوند وو، له خدايي خدمتګارانو سره مالي مرستي کولي او د ګوند په تنظيمي چارو کي يې کومک ورسره کاوه. په عوض کي خدايي خدمتګار ګوند له کانګريس سره ژمنه وکړه چي د انګرېزانو پر ضد د ملکي نافرماني په تحريک کي ورسره ودريږي. نور اسلامي ګوندونه له کانګريس څخه ډارېدل مګر خدايي خدمتګار وليدل چي کانګريس ډېر ښه اقتصادي او سياسي ملاتړ دى؛ خصوصا دا چي کانګريس د دوى د سيمه ايزې خودمختارى او هويت ملاتړ کاوه. تر هغه ځايه چي خدايي خدمتګارانو له کانګريس سره په حياتي سياسي مسايلو کي همکاري کول د هغه ګوند مقاماتو، سره له هغه چي کله کله به ناراض وه، غوښتل چي هغوى د خپل سيمه ايز ډول نېشنليزم تعقيبولو ته پرېږدي.
غفار خان به کله کله د تشدد نه کولو پاليسي غوره کړه؛ د خپل ګوند غړو ته به يې سوګند ورکړ چي انتقام به نه اخلي او اروپايي جامي به نه اغوندي او له دغه امله يې د سرحدي ګاندهي لقب ګټلى وو. ده حتى پر دې مسله باندي غور کاوه چي هندوان د مسيحيانو او يهودانو په څېر د کتاب پيروان وبولي. خو کله کله به داسي ښکارېدله چي غفار خان تر ګاندهي د ترنګزيو د حاجي صاحب د مبارزو څخه زيات الهام اخلي. چنداني داسي شواهد نسته چي دا وښيي چي د پښتنو اولسونو د ګاندهي د تشدد نه کولو، د خپل نفس د پاکولو او غيرفعال مقاومت اصول منلي وي. برعکس، سور کميسي يا سرخ پوشان د کنډکونو په اساس تنظيم سوي وه، يوځي يونيفورم يې اغوستى، جنګي تمرينات يې کول او تقريبا ټول معاصر منابع وايي چي هغوى تشدد ته ترجيح ورکول.
د خدايي خدمتګارانو د اوږدې مودې اهداف ځرګند نه دي. په داسي حال کي چي غفار خان د اجتماعي اصلاحاتو ډېر ټينګ طرفدار وو، د ټولني د کښتني طبقي د خلکو ملاتړ يې کاوه او د زميندارانو سره يې مخالفت کاوه خو د ده د سياسي فلسفي درک چنداني نه ښکارېدى او ډېر زيات تغيير يې کاوه. ده په ځرګنده د برتانيي له واکمنى سره مخالفت کاوه او هغه يې د ټولو ستونزو ريښه بلله مګر چي د هغو پر ځاى به د بل قدرت موضوع طرح سوه نو د ده دريځ به پر يوه حال نه وو. نهرو او ګاندهي ادعا کوله چي دوى غفار خان او د هغه ورور ته د هند په فيدرال حکوت کي د سيمه ايزې خودمختارى وعده ورکړې ده. د شمال لوېديځي صوبې د ايالت وروستى ګورنر سراولف کېرو په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

دې عقیده وو چې غفار خان او ډاکټرخان په دې عقیده وه چې دوی به په متحد هند کې خپله واکمني ولري او په هغې کې به د پښتنو پر طرز کمونیزم جوړ کړي. سرویلیم بارټن د برتانيې عمومي نظر ته انعکاس ورکوي او خدایی خدمتگاران کوچني شورویان بولي. بارټن غفار خان يو توندرو لمسوونکی بولي چې هدف يې د برتانيې پر ضد د ټولو پښتنو را غونډول او د اباسين څخه ها خواته شړل دي. که څه هم چې پر غفار خان باندي د کابل د گوډاګي تور لګول کېدی مګر هيڅ داسي شواهد نسته چې د کابل له حکومت څخه، تر ۱۹۴۷ کال پوري، د غفار خان ملاتړ ونيبي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ